## داوطلبۍ ته بلنه

## داخلي پر انیستې داوطلبي

پروژه: د افغانستان بانک د معلوماتي تکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د مختلف ډوله سافتویرنو چمتو او تدارک کول

داوطلبۍ ته د بلنې شمېره:DAB/1402/NCB/G21

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د 1402 کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د DAB/1402/NCB/G21 داخلي پرانیستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { د تحویلی د جدول مطابق } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستې پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (Maqsood.noori@dab.gov.af) برېښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د سه شنبې ورځ سهار له {10:00} بجو مخکې 1402/08/07 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین یانقدی پیسی

۸. د آفر د تضمین مبلغ ( 267,960) دوه سوه اوه شپیته زره نهه سوه او شپیته افغانۍ

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه 28 ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1402/08/07 څخه تر 118 ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د 15.2 مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1. د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم: تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکاروندوی وي.

2. د تیرو پنځو کلونو په اوږدو کې د کلنۍ راکړې ورکړې حجم 14,737,800 څوارلس میلیونه اوه سوه اوه دیرش زره او اته سوه افغانۍ

3. داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لرټرلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي. یوه ورته پروژه لږ تر لږه 8,038,800 – اته میلیونه اته دیرش زره او اته سوه افغانۍ - یا دوه ورته پروژې لږ تر لږه 13,398,000 دیارلس میلیونه دری سوه او اته نوی زره افغانۍ په تیرو لسو کلونو کې.

د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې ټولیز ارزښت: ( 3,349,500 دری میلیونه نهه څلویشت زره او پنځه سوه افغانۍ)

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمۍ د وروستۍ نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**یادونه : د داوطلبۍ څخه مخکې غونډه د 1402/07/24 نیټه د دو شنبې ورځ د سهار پر 10:00 بجود د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت کې دایریږي.**


د آفر د سپارلو پته:

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 777572349 (0) 93+

برېښنالیکmaqsood.noori@dab.gov.af

ویب پانه: www.dab.gov.af